**بسم الله الرحمن الرحيم**

# د قسطنطنیې له فتحې څخه ځینې زده کړې

**(ژباړه)**

**لومړی:**

د قسطنطیې فتحه موږ ته رایادوي، چې مسلمانان یو امت دی. د هغوی جګړه او سوله یوه ده؛ که اسلامي دولت ونه لري، بیا نو اړ دي چې د استعمارګرو خدمت وکړي. مذهبي او قبیلوي جګړې یوازې د امت دښمنانو ته د خدمت کولو په مانا دي. پر یوه ځمکه زموږ یووالی د فتحو اساسي کلي ده او د رسول الله صلی الله علیه وسلم د زېري بشرږوونکی دی.

دویم:

د قسطنطنیې فتحه موږ ته دا را زده کوي، چې د سیمې هېوادونه شنډ او بېکاره دي او پر خلکو یو اضافي بار دی. اسلام راغلی چې پر نړۍ حکومت وکړي او نړۍ ته ولېږدول شي؛ له همدې امله سایکس پیکو هېوادونه نه اسلام پلی کولی شي او نه له ځان څخه ملاتړ کولی شي. د اسلامي امت د پیاوړتیا راز یوازې په دې کې دی، چې پر خپل دین منګولې ټینګې کړي، په خپلو تصمیمونو کې له غرب څخه خپلواک وي او په یوه واحد کتار کې راټول شي.

درېیم:

د ۲۱ کلن ځوان پر لاسونو د قسطنطنیې فتحه موږ ته دا را زده کوي، چې د دغه رهبر لښکر د هغه له حکم څخه پوره اطاعت کاوه، ځکه رسول الله صلی الله علیه وسلم یوازې دا نه دي فرمایلي چې:

**«فَلَنِعْمَ الْأَمِيرُ أَمِيرُهَا»**

***ژباړه:*** *د هغه رهبر به یوه غوره رهبر وي.*

بلکې دا یې هم ویلي:

## «وَلَنِعْمَ الْجَيْشُ ذَلِكَ الْجَيْشُ»

***ژباړه:*** *او د هغه لښکر به یو غوره لښکر وي.*

موخې د رسېدو لپاره یوه بله مهمه لاره، له خپل امیر څخه اطاعت دی؛ چې له امر څخه اطاعت وشي او لیدلوری یې تعقیب شي.

څلورم:

د قسطنطنیې فتحه موږ ته دا رایادوي چې موږ انسانان یو، سمې او ناسمې کړنې تر سره کوو؛ که ناسمې کړنې مو تر سره کړې، موږ به مغلوب او په جګړو کې بښکېل امت وو او که سمې کړنې مو تر سره کړې، نو موږ به فاتح او بریالی امت وو. موږ خپلې ناسمې کړنې یوازې په دوو شرطونو سره جبران کولی شو: لومړی تصمیم مو باید دا وي، چې ګناه تکرار نه کړو او دویم موږ باید دا درک کړو، چې د اسلامي دولت په نشت کې یو بې سرپرسته او یتیم امت یو.

**د حزب التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**د داکتر فراج ممدوح لخوا**